# بُنِيَ الْإِسْلَامُ عَلَى خَمْسٍ

له ابي عبدالرحمن عبدالله بن عمر بن الخطاب رضى الله عنهما نه روايت دى وايي چې: ما له رسول صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي، چې فرمايل يې: «بُنِيَ الْإِسْلَامُ عَلَى خَمْسٍ: شَهَادَةِ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، وَإِقَامِ الصَّلَاةِ، وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ، وَحَجِّ الْبَيْتِ، وَصَوْمِ رَمَضَانَ». «اسلام په پنځو شيانو ولاړ دى: گواهي ورکول چې له الله پرته بل معبود نشته او دا چې محمد صلى الله عليه وسلم د الله رسول او بنده دى، لمونځ کول، زکات ورکول، د بيت الله حج کول، او د رمضان روژه نيول».

[صحيح دى] [البخاري او مسلم روايت کړى دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم اسلام له يوې پياوړې او غښتلې ودانۍ سره تشبيه ورکړه، د هغو پنځو رکنونو له امله چې دا ودانۍ يې پورته کړې ده، او د اسلام نورې پاتې ځانګړتياوې لکه د ودانۍ بشپړوونکي دي. او د دغو رکنونو لومړى يو يې: دوه ګواهيانې ورکول دي؛ يوه دا چې له الله جل جلاله پرته بل په حقه معبود نشته او دا چې محمد د الله جل جلاله رسول دى، او دا دواړه يو رکن دى؛ چې يو له بل څخه نه جلا کيږي، بنده په دواړو ګواهيانو کې په خوله اقرار کوي پداسې حال کې چې د الله جل جلاله په يووالي ګواهي ورکوي او پدې چې هغه يوازې د عبادت مستحق دى، او د دې ګواهۍ په غوښتنه عمل کوي، بل دا چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په رسالت ايمان لري او پيروي يې کوي. او دويم رکن: د لمانځه ادا کول دي، چې هغه په شپه او ورځ کې پنځه وخته فرض لمونځونه ادا کول دي له شرطونو، رکنونو او واجباتو سره، يعني: سهار، ماسپښين، مازديګر، مانښام او د ماخوستن لمونځونه. او دريم رکن: په هر هغه مال کې د فرض زکات ادا کول دي چې په شريعت کې ټاکلې اندازې ته رسيدلى وي، د زکات ورکول يو واجب مالي عمل دى، چې مستحقو کسانو ته ورکول کيږي. او څلورم رکن حج دى چې مکې مکرمې ته د مناسکو د پر ځاى کولو لپاره د الله تعالى د عبادت په نيت د تللو قصد کول دي. او پنځم رکن د رمضان روژه ده چې له سهار راختلو څخه تر لمر لوبدو پورې د الله جل جلاله د عبادت په نيت له خوراک، څښاک او داسې نورو روژه ماتوونکو شيانو څخه ډډه کول دي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/66512